# زما مشورې او بېلگې خوند ورکړ

لیکوال : ډاکټر رحمت ربی زیرکیار

**Dr.  Achakzi  Enjoyed My Advice and Example**

**By:**

**Dr. Rahmat Rabi Zirakyar, Independent Scholar, U.S.A.**

January 1,  2010

د ډ اکټر د رویزه اڅکزي وینا به ساده وه خو مطلب به یې کوټلی و.ده به هغه څه ویل چې کول به یې . زموږ ورورۍ هغه مهال پیل شوه چې موږ د واړه د لوید یز جرمني په پوهنتونونو کې پوهېد ونکي وو . ډاکټر اڅکزی د زییز کال ۲۰۰۸ د نیمایې په شاوخوا کې کاناډ ا ته راغلی و. په تلفون کې مو ښایسته اوږده خواله وکړه .زه یې وپوښتلم چې که لید ل مو وشي .ورغبرگه مې کړه چې دی مې لیدلی شي خو زه یې نشم لیدلی : ما په ده زیری وکړ چې د وه ورځې وروسته به د افغان پیام تلویژن په تلویژني مجله کې د ارواښاد مفکر وزیر محمد گل مومند په اکله وینا کوم .زما د غې وینا ده ته ډ ېر خوند ورکړی و . ډ اکټر د روېزه اڅکزي د اسې مفکوره لرله چې که د میرویس نیکه او احمد شاه بابا په ټاټوبي کند هار کې د یوه ستر پوهنتون جوړولو ته لار پرانیستلی شي . زمانه یې هیله وکړه چې که دی د د غسې پوهنتون په جوړولو بریالی شي، زه دې ورسره د مشر اکاډ میک سلاکار Senior Academic Advisor او د افتخاري پوهنتون مشر Honorary President of the University په څېر همکاري وکړم . ډ اکټر اڅکزی په دې پوهېده چې زه په نیول شوي افغانستان کې رسمي کار نشم زغملی. ما ورته وویل چې کله پخپله دی د دغې پروژې وروستني پړاو ته ور ننوت، بیا به زما په علمي همکارۍ وگرېگو . یوه مشوره مې ورکړه چې د پوهنتون د انگړ په هر ننتوځ gate یانې غټه د روازه دې یوه لنډه خو پخه وینا ولیکله شي، د بېلگې په ډ ول په جرمني کې د زېرېد لې او ورپسې په شلمه پېړۍ کې د ستر امریکایي فزیکپوه آلبېرت آینشتاین دا وینا: « علم بې له د ین نه شَل دی، د ین بې له علم نه ړوند دی »

“Science without religion is lame, religion without science is blind.” Albert Einstein (1879-1955).

دې مشورې او بېلگې ته د ډ اکټر اڅکزي خوله گوړې گوړې شوه . په د اسې حال کې چې زه پخپله د ناروغۍ په کټ کې په کړاو اخته وم ، د ۲۰۰۹ کال د د سمبر په یود ېرشمه نېټه زما په زړه او مغزو یوه داسې سپېره خړه خېره شوه چې خپل کړاو یې رانه هېر کړ . د بر ېښنا لیک له لارې خبر شوم چې د رې څلو ر ورځې وړاندې زما عالم ورور او سیاسي ټلگري ډ اکټر د روېزه اڅکزي له دې

فاني کنډ ر نه سترګې پټې کړې وې . انا لله و انا اليه راجعون . غوره جنتونه دې په برخه شه وروره ! د اروا ښاد ډاکټر اڅکزي ټولو خپلوانو او د وستانو ته خپله غمشريکی وړاندې کوم . د باچا خان مشر ځوی او د پښتو فيلسوف شاعر عبد الغني غني هسک څښتن ته د مړينې په اکله د اسې ويلي وو

مرګ خو يوه نيکي ده چې تا وکړه د انسان سره
مرګ ستا غېږ له ويوړ کنه و به تل د ځان سره